# د پښتون اېس اېف بلوچستان غونډه

ګل حسن کاکړ

د پښتون سټوډنټس فېډرېشن تر سپوري لاندې يوه غونډه د صوبائي صدر منظور کاکړ په صدارت کښې په سائنس کالج "ظريف شهيد" اډيټوريم کښې د پښتون سټوډنټس فېډرېشن سندهـ صوبې د پخواني صدر او د سندهـ اسمبلۍ غړي او د پارټۍ رهنما امان خان محسود په درناوي کښې وشوه. دروند مېلمه امان خان محسود او منظور کاکړ نه علاوه د تنظيم صوبائي جنرل سېکرټري خليل اتمانزي، سينئير نائب صدر محمد قاسم خان کاکړ د مرکزي کمېټۍ غړي خان محمد کاکړ، قسيم کاکړ، انعام کاکړ، يعقوب خان وېنا وکړې.



په غونډه کښې د پښتون سټوډنټس فېډرېشن کوئټې د ټولو يونټو ملګرو په ډېر ګڼ شمېر کښې شرکت وکړو. غونډې ته درنو مشرانو په خپلو وېنا کښې ووئيل چې پښتون فېډرېشن په اصل کښې د باچا خان د خدائي خدمتګار تحريک يو تسلسل دے، کۀ يو طرف ته فېډرېشن د پښتنو لوستونکو په علمي او سائنسي خطوطو منظم کول او په تعليمي ادارو کښې يو ښۀ تعليمي ماحول برقراره ساتي نو بل طرف ته په عملي ژوند کښې د پښتونخوا او پښتنو خدمت هم کوي. نن کۀ مونږ وګورو نو د پښتون اېس اېف ملګري په پښتون قومي تحريک کښې ډېر زيات او ستر کردار لوبولے دے. نن د پښتون قومي تحريک ستر سالار او ملي مشر اسفنديارولي خان هم د پښتون سټوډنټس فېډرېشن څخه راوتلے دے چې زمونږ دپاره ډېر د فخر وړ زبرے دے. دوي زياته کړه چې د دې نه علاوه ډاکټران، وکيلان، استاذان، انجينئيران غرض دا چې د ژوند په هره شعبه کښې د پښتون سټوډنټس فېډرېشن ملګري د خپل قوم او وطن په خدمت کښې بوخت دي.

وېنا کوونکو زیاته کړه چې پښتون قومي تحریک نن په یو داسې پړاؤ ولاړ دے چې هغه د فېصلې ګړۍ ته رسېږي او دغه مرحله هر څو کۀ ترخه ده خو په قومونو چې کله داسې حالات راځي نو خپل منزل ته د رسېدو امید هم پېدا کېږي. نن په پاکستان او د خطې په سیاست کښې چې کوم کردار زمونږ د زمکې او د مشرانو جوړ شوے دے. ټولې دنیا نن د پښتون قوم ترقي او خوشحالي د دنیا ترقي او خوشحالي ګڼلې ده. نن د باچا خان او ولي خان هغه ټولې خبرې صحیح ثابتېږي او دنیا نن د عدم تشدد په ضرورت پوهه شوه. دوي ووئیل چې پښتون یو پُرامن، مترقي قوم دے خو د دې خطې د سیاسي او جغرافیائي اهمیت له وجې داسې حالات راوستے شو چې د دوي د خاورې نه ئې د جنګ مېدان جوړ کړو.



نن په ټوله پښتونخوا کښې د دهشت ګردۍ، انتهاپسندۍ، ظلم، بربریت چې کوم دور دوره ده، د دې زمونږ حکمرانان قطعاً خلاصون نۀ لري، ځکه چې د ټولې دنیا دهشت ګرد ئې د پښتنې خاورې مېلمانۀ کړۀ او د دغې ځایه د دهشت ګردۍ کارروائۍ کېږي، لېکن د خان عبدالولي خان یو ډېر مشهور اخباري بیان "چې چاله تۀ اورونه ورلېږې د هغۀ نه د ګلانو طمع عبث ده". نن هم هغه وشوه.

مقررینو زیاته کړه چې نن هم کۀ پښتانۀ په خپل حال پرېښودل شي او دغه بهرني دهشت ګرد د دې وطن څخه لاړ شي نو پښتون قوم به ډېر ژر د خپل وطن خوشحالۍ او ابادۍ ته ملا وتړي او خپل وطن به ګل ګلزار کړي. ځکه چې هېڅ کله هم په تاریخ کښې پښتون قوم تشدد پسند قوم نۀ دے ثابت شوے بلکې یو پُرامن، غېرت مند، مېلمه پالونکے، صاف مسلمان او د بل دپاره درد لرونکے قوم دے.

دوي زیاته کړه چې نن هم پاکستان کښې څۀ قوتونه زمونږ د ترقۍ، خوشحالۍ، ابادۍ دښمنان دي حتٰي چې زمونږ د نوم اورېدو څخه هم انکاري دي چې یقیناً د دې ملک دپاره د خوشحالۍ زېرے نۀ دے او دا د هغو خلقو او قوتونو غلط فهمي ده چې پښتون قوم به په اور کښې سوځوي او د نوم خاوند به نۀ وي. دا پالیسي نوره زیاته نۀ چلېږي او الحمدلله نن پښتون قوم خپله فېصله خپلې مور پارټۍ (عوامي نېشنل پارټۍ) او ملي مشر اسفندیار ولي خان ته سپارلې ده.

دوي زیاته کړه چې د فېډرېشن ملګري دې خپلې هلې ځلې نورې هم زیاتې کړي او په خپلو کښې دې اتفاق او اتحاد نور هم زیات کړي او خپل ملي مرام ته د رسېدو دپاره دې خپل قوت راغونډ کړي. په اخر کښې د امان محسود په درناوي کښې د صوبائي تنظیم له اړخه د چایو د پارټۍ بندوبست شوے ؤ.

(لیکونکے د پښتون سټوډنټس فېډرېشن بلوچستان صوبائي پرېس سکرټري دے.)